# بانک

د افغانستان بانك میاشتنۍ مجله

پنځلسم کال، ۱۷۹ مه ګڼه د ۱۴۴۳ کال د ذوالقعده ( ۱۴۰۱ غبرګولي) میاشت




# د هیواد د څو پوهنتونونو له استادانو سره د افغانستان بانک د پولي سیاستونو په تړاو د ناستې جوړول

# ګرانو هیوادوالو!

څرنګه چې تاسو ته معلومه ده چې د افغانستان بانک په ۱۴۰۰/۸/۱۲ نېټه سوداګریزو بانکونو ته متحدالمال مکتوب صادر کړی دی چې پر بنسټ يې هغه پېرودونکي چې له پورته يادې شوې نېټې څخه وروسته په بانکونو کې خپل امانتونه ږدي، کولای شي له کوم محدوديت پرته يې له يو حساب څخه بل حساب ته ولېږي او يا يې په بشپړه توګه تر لاسه کړي.

همدا ډول د افغانستان بانک له ژمنې سره سم په هڅه کې دی څو په دې برخه کې ګرانو هیوادوالو ته ډېرې اسانتیاوې برابرې کړي او د بانکي نظام کړنې عادي حالت ته راوګرځوي.

# هموطنان عزیز!

طوری که در جریان قرار دارید د افغانستان بانک به تاریخ ۱۲/۰۸/۱۴۰۰ متحدالمال را به بانکهای تجارتی صادر نموده که بر اساس آن مشتریان محترم که پس از تاریخ تذکر داده شده، سپرده گذاری می نمایند، آنرا بدون محدودیت مقداری می توانند از یک حساب به حساب دیگر انتقال یا بصورت مکمل بر داشت نمایند.

با این حال، د افغانستان بانک طبق وعده خود در تلاش است تا سهولت های بیشتر از این را برای مردم عزیز خود فراهم نموده و فعالیت نظام بانکی را بشکل نورمال در آورد.





## د ګڼې لړلیک / مطالب مجله


| د ګڼې لړلیک / مطالب مجله | مخ |
|---|---|
| د هیواد د ځو پوهنتونونو له استادانو سره د افغانستان بانک د پولي سیاستونو په ... | ۲ |
| د ایکو د سوداګرۍ او پراختیا بانک د رئیسانو بورډ د یوویشتمې کلنۍ غونډې جوړېدل | ۴ |
| د سوداګریزو بانکونو له استازو سره غونډه | ۶ |
| برگزاری نود و چهارمین جلسه هیئت مدیره بانک تجارت و توسعه اکو (ETDB) | ۷ |
| تدویر برنامه آموزشی برای کارمندان زونهای هفتگانه د افغانستان بانک | ۸ |
| گسترش عرضه خدمات نظام بانکی، زمینه رشد اقتصادی را فراهم می نماید | ۹ |
| اقتصادي حُباب یا Economic Bubble علت، ډولونه، پراوونه او بېلګې | ۱۲ |
| چگونگی رشد و توسعه بانکداری اسلامی در جهان | ۱۶ |
| د اوبو مدیریت کرنیزه وده او برښنائي بریا رامنځته کوي | ۱۸ |
| اقتصادي خبرونه | ۲۰ |
| انقلاب صنعتی چگونه روی کار آمد؟ | ۲۲ |
| د سود (ربا) ډولونه، احکام او د حراموالي علتونه | ۲۴ |
| ارزش جهانی گندم و سایر غلات | ۲۶ |
| د افغانستان کرنیز محصولات، غالۍ او کاني زیرمې صادراتي وده رامنځته کوي | ۲۹ |



بانک کاري ډله

د امتیاز خاوند: د افغانستان بانک

کتنپلاوی: صدیق الله خالد، جواد سداد او مفتي عبدالله آخندزاده

سرلیکوال: شفیق الله بارز

مسئول مدیر: حسیب الله نوري

خبریال: عبدالحفیظ شاهین

ډیزاین: خالد احمد فیضي

فوټوژورنالیست: زیرک ملیا

د وېش مسؤل: نصرت الله احمدزی

د چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

پته: د افغانستان بانک

ټلیفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

برښنالیک: magazine@dab.gov.af

ویب پاڼه: www.dab.gov.af

د ثبت ګڼه: ۶۵۸



د مضمونونو او مقالو مسئولیت د لیکوالانو پر غاړه دی. د مجلې د مقالو او انځورونو څخه ګټه اخیستنه د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.

مسئولیت مضامین و مقالات به نویسنده‌گان آن بر می گردد. استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.



Da Afghanistan Bank-Youtube    twitter.com/AFGCentralbank    www.facebook.com/AFGCentralbank







# د هیواد د څو پوهنتونونو له استادانو سره د افغانستان بانک د پولي سیاستونو په تړاو د ناستې جوړول

کابل، ۱۴۴۳ ذوالقعده ۱۵ مه – د افغانستان بانك د پولي سیاستونو د طرحې او پلي کولو په تړاو له علمي ټولنې سره د اړیکو د ټینګښت او دوام د اصل او د اقتصاد پوهنځي د مالي او بانکي چارو د استادانو له نېکو نظرونو څخه د ګټې اخیستنې په پام کې نیولو سره د اکاډمیکې ټولنې له څو تنو استادانو سره ناسته ترسره کړه.




د دې پروګرام د جوړولو موخه د شته شرایطو په پام کې نیولو سره د پالیسیو د اعتبار د پیاوړي کولو او د ګټورو او اغېزناکو پروګرامونو د طرحه کولو په تړاو د اقتصاد پوهنځي د علمي کادرونو او استادانو بحث او د نظرونو تبادله او د لید لورو ترلاسه کول ګڼل کېږي.

د افغانستان بانک د ټولو ریاست سرپرست رئیس ښاغلي حاجي ادریس د ناستې په پرانیستیزه وینا کې وویل چې د افغانستان بانک او تحصیلي ادارو ترمنځ اړینه همغږي شته چې مرکزي بانک ورته بشپړ ارزښت ورکوي، په ځانګړي توګه هغه مهال چې د پوهنتونونو د علمي کادرونو مثبت او اغیزناکه لیدلوری، د پروګرامونو او د پولي سیاستونو په طرحه کولو باندې مثبتې اغېزې ولري. په همدې موخه د افغانستان بانک پرېکړه وکړه، څو د شرایطو په پام کې نیولو سره، د پولي سیاست د طرحه کولو، پلي کولو او تر لاس لاندې نیولو په اړه ناسته وکړي.

وروسته د افغانستان بانک د پولي سیاست د لوی آمریت مرستیال ښاغلي عبدالله مسعود د پولي سیاستونو د طرحې، پلي کولو او تر سره کولو په تړاو هر اړخیز پریزنټیشن وړاندې کړ او د بحث ګډونوالو څخه یې د ګټورو نظرونو غوښتنه وکړه.

وروپسې د آزاد بحث او د نظرونو د تبادلې زمینه برابره شوه چې په پیل کې د افغانستان بانک د اقتصادي چارو ستر سلاکار ښاغلي لطف الحق نور پسرلي د پوهنتونونو د استادانو لیدلوري مهم وګڼل او ویې ویل؛ د افغانستان بانک ټولو استادانو ته ډاډ ورکوي چې د پولي سیاستونو د طرحې او پلي کولو په برخه کې ستاسو د رغنده او اغېزمنو نظرونو هرکلی کوي او له دې نظرونو به ګټه پورته کړي.

همدارنګه، ښاغلي پسرلي زیاته کړه، د نیکمرغۍ ځای دی چې نن مونږ د خپلو هیوادوالو له مسلکي او وړ کادرونو سره د ناستې شاهدان یو چې د خلکو له درد سره اشنا دي او په فکر او هڅو به یې ستونزو ته د حل لاره پیدا کړو.

وروپسې د افغانستان بانک د پولي سیاست آمر، ښاغلي احمد جواد سداد د پولي سیاست د ابزارونو، د پولي سیاست د اډانې او د اسعاري رژیمونو د ډولونو او د بازار عملیاتو لوی آمر ښاغلي عباس سامح د اسعاري زېرمو د مدیریت، د اسعارو او بیه لرونکو پاڼو د لیلامونو په ترسره کولو او د اعتبار لیکونو د صادرولو په اړه خبرې وکړې.

د دې ناستې په دوام کې، رابلل شویو استادانو هر یو په خپل وار د افغانستان بانک له اداري مسئولینو سره خپل نظرونه شریک کړل او اوسنیو شرایطو ته په پام کې نیولو سره یې د انفلاسیون په مهارولو او د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې نرخ د ټیکاو په ساتلو کې د افغانستان بانک بریالۍ هڅې وستایلې.

باید یادونه وکړو چې په دې پروګرام کې د افغانستان بانک د سرپرست رئیس ښاغلي حاجي ادریس سربېره، د ریاست د دفتر لوی آمر ښاغلي صدیق الله خالد، د افغانستان بانک ستر اقتصادي سلاکار لطف الحق نور پسرلي، د پولي سیاست او بازار عملیاتو د لویو آمریتونو آمرینو، د کابل پوهنتون استادانو اجمل آرین او همایون غفوزي، د کاردان پوهنتون استادانو سیداجان احمدزي او جوهر مسعودي، د کاتب پوهنتون استاد حسن روحاني، د باختر پوهنتون استادانو عبیدالله ظریفي او افتخارالله غني، د رڼا پوهنتون استاد صدیق الله صادق، د غالب پوهنتون استادانو نصیر احمد ندیم او امام علي سدید او د تابش پوهنتون استاد احمدالله مسلم هم ګډون کړی وو.






# د ایکو د سوداګرۍ او پراختیا بانک د رئیسانو بورډ د یوویشتمې کلنۍ غونډې جوړېدل

«

د ایکو د سوداګرۍ او پراختیا بانک کلنۍ غونډه د ۱۴۰۱ کال د غبرګولي د میاشتې پر ۳۱ مه نېټه د دې بانک د غړو په ګډون په آنلاین ډول جوړه شوه. په دې غونډه کې د افغانستان بانک سرپرست رئیس ښاغلي عبدالقاهر (حاجي ادریس) چې د ایکو د سوداګرۍ او پراختیا بانک د رئیسانو د بورډ دوره يي رئيس هم دی ګډون درلود.

غونډه د ایکو بانک د رئیس ښاغلي یلچین یوکسل له خوا پیل شوه او ورپسې ښاغلي عبدالقاهر (حاجي ادریس) خپله پرانیستونکې وینا وکړه او د افغانستان د مرکزي بانک سرپرست د ایکو بانک د غړي په توګه له دغه بانک سره د همکارۍ ډاډ ورکړ. نوموړي په ۲۰۲۱ کال کې د ایکو بانک د کړنو ستاینه او د دغه بانک د مسوولینو د نه ستړي کېدونکو هلو ځلو په پایله کې چې شاوخوا ۱۲ میلیونه ډالره خالصه ګټه يې ترلاسه کړې ده مننه وکړه.

د افغانستان بانک سرپرست رئیس د ایکو بانک غړو هیوادونو ته د پورونو د ورکولو او نورو غړو ته دپورونو د تمدید یادونه وکړه او زیاته يې کړه چې په مناسبو شرایطو کې به افغانستان هم وکولای شي، چې د دغه بانک له پورونو او اسانتیاوو څخه په بېخبنسټیزو او اقتصادي پراختیایي پروژو کې ګټه واخلي.

ورپسې د ایکو بانک عمومي منشي ښاغلي خسرو نظري وینا وکړه او له هغه وروسته د غونډې اجنډا د غونډې د ټولو غړو لخوا تصویب شوه. ورپسې د ایکو بانک د ۲۰۲۱ کال کلنی راپور او مالي راپورونه وړاندې شول چې دواړه د رئیسانو بورډ د غړو له خوا تصویب شول.

په غونډه کې د پلټنې د ارزونې راپور هم وړاندې شو چې د غړو له خوا تصویب شو او تر هغې وروسته یو شمېر غړو هیوادونو خپلې ویناوې او نظرونه وړاندې کړل.

د یادولو وړ ده چې د ایکو بانک لخوا په ۲۰۲۱ زیږدیز کال کې ترلاسه شوې خالصه ګټه د بانک د اساس نامې د ۲۷ مادې پر بنسټ د بانک په پانګه کې ور زیاته او د غړو د تائید وړ وګرځېده. د غونډې په وروستۍ برخه کې د ایکو د سوداګرۍ او پراختیا بانک د رئیسانو د بورډ دوره يي ریاست د بلې دورې لپاره د آذربایجان هیواد پر غاړه واچول شو.

د یادونې وړ ده چې دا بانک په سیمه کې د سوداګرۍ د پراختیا لپاره د مالي او اعتباري اسانتیاوو د رامنځ ته کولو، دودولو او وړاندې کولو او همدا ډول د ایکو سازمان د مجموعې تر چتر لاندې د غړو هیوادونو د اقتصادي پراختیا د چټکتیا په موخه تأسیس شوی،چې مرکز يې د ترکیې په استانبول ښار کې دی. افغانستان هم په ۲۰۱۴ زیږدیز کال کې د دې بانک غړیتوب ترلاسه کړی او د یاد بانک په غونډو کې په منظمه توګه ګډون کوي.

باید وویل شي چې د افغانستان بانک تل هڅه کړې څو له نړیوالو او سیمه ایزو مالي سازمانونو سره د خپلو اړیکو د تأمینولو او ښه والي په برخه کې فعاله ونډه ولري او د بانکي او مالي اسانتیاوو د برابرولو په برخه کې د پام وړ رول ولوبوي.

# د سوداګريزو بانکونو له استازو سره غونډه










۱۴۰۱د غبرګولي ۲۴ مه - د افغانستان بانک د لومړي مرستيال ښاغلي نور احمد آغا پر مشرۍ د افغانستان بانک د عالي شورا په تالار کې د سوداګريزو بانکونو له استازو سره غونډه جوړه شوه.

په ياده غونډه کې د افغانستان بانک لومړي مرستيال ښاغلي نوراحمد آغا د سوداګريزو بانکونو د ستونزو پر حل، د دې بانکونو په خالي بستونو کې د مسلکي کسانو پر استخدام او خلکو ته د غوره بانکي خدمتونو د وړاندې کولو په اړه هر اړخيزې خبرې وکړې او د افغانستان بانک له اړخه يې د دې بانکونو استازو ته د پوره همکارۍ ډاډ ورکړ.

بايد ووېل شي چې په دې غونډه کې د افغانستان بانک ستر اقتصادي سلاکار ښاغلي لطف الحق نور پسرلي هم ګډون کړی ؤ او د سوداګريزو بانکونو له استازو يې په چارو کې د لا ډېرې همغږۍ غوښتنه وکړه، نوموړي د سوداګريزو بانکونو له استازو وغوښتل چې د خلکو لپاره غوره بانکي خدمتونه وړاندې کړي او په دې برخه کې اړينې آسانتياوې رامنځته کړي.

د يادونې وړ ده چې په دې غونډه کې د افغانستان بانک له بانکونو څخه د څارنې لوی آمر ښاغلي عبدالرحمن قانت، د افغانستان د بانکونو د ټولنې او د سوداګريزو بانکونو استازو ګډون کړی وو.

»




# برگزاری نود و چهارمین جلسه هیئت مدیره بانک تجارت و توسعه اکو (ETDB)

نود و چهارمین جلسه هیئت مدیره بانک تجارت و توسعه اکو (ETDB) به تاریخ ۲۱ ذوالقعده ۱۴۴۳ (۱۴۰۱/۰۳/۳۰) به صورت آنلاین تدویر گردید. در این جلسه رییس بانک تجارت و توسعه اکو و اعضای هیئت مدیره کشور های عضو حضورداشتند.

در این جلسه ابتداء صورت جلسه قبلی توسط اعضای هیئت مدیره به تصویب رسید. سپس گزارش های مالی و گزارش سالانه ۲۰۲۱ بانک مذکور توسط هیئت مدیره مورد تایید قرار گرفت.

متعاقبا سقف قرضه به تعدادی از نهاد های مالی پاکستان تجدید نظر گردید و گزارش بازپرداخت قرضه های بانک ایکو به تعدادی از پروژه های زیربنایی کشور عضو ایران ارائه گردید.

در اخیر پیرامون تصویب و تعدیل تعدادی از مقررات و پالیسی های این بانک طبق آجندا بحث و تصامیم لازم در زمینه اتخاذ گردید.

قابل تذکر است که این بانک با هدف ایجاد، ترویج و ارائه تسهیلات مالی و اعتباری برای توسعه تجارت منطقه ای و همچنین تسریع توسعه اقتصادی کشورهای عضو در زیرمجموعه سازمان اکو تاسیس گردیده و مقر آن در استانبول ترکیه است. افغانستان درسال ۲۰۱۴ عضویت این بانک را بدست آورده است و در جلسات آن طور منظم اشتراک می کند.

د افغانستان بانک همواره کوشیده است تا در جهت تامین و بهبود روابط خویش با سازمان های مالی بین المللی و منطقه ای سهم فعال داشته و در جهت ایجاد تسهیلات بانکی و مالی هرچه بیشتر، نقش برازنده ایفا نماید.

# تدویر برنامه آموزشی برای کارمندان زونهای هفتگانه د افغانستان بانک





برنامه آموزشی تحت عنوان مرور بر وظایف عمده آمریت های مختلف د افغانستان بانک برای آمرین زونهای هفتگانه و مدیران ارشد واحد های دومی د افغانستان بانک که در این اواخر تقرر حاصل نموده بودند، تدویر گردید.

این برنامه بمنظور کسب آگاهی در مورد وظایف عمده آمریت های مختلف د افغانستان بانک و چگونگی ایجاد روابط کاری میان زونهای هفتگانه و آمریت های مستقر در دفتر مرکزی د افغانستان بانک، در دو دوره برگزار گردید.

دوره اول این برنامه از تاریخ ۲۴ الی ۲۸ ثور و دوره دوم از تاریخ ۷ –۱۱ جوزای سال روان برگزار گردید بود که مجموعاً ۵۰ تن از آمرین و مدیران ارشد تحت الاثر آمریت های زون مرکز، زون شرق، زون شمال، زون شمالشرق، زون غرب، زون جنوب شرق و زون جنوب غرب اشتراک داشتند.

قابل تذکر است در این برنامه آموزشی ۱۷ آمریت عمده د افغانستان بانک که با زونها روابط کاری مستقیم و غیر مستقیم دارند، توسط کارمندان این آمریت ها با ارائه پرزنتیشن به اشتراک کننده گان معرفی گردیدند.




# گسترش عرضه خدمات نظام بانکی، زمینه رشد اقتصادی را فراهم می نماید

نویسنده: محمد کاظم سروری

همه شمول بودن عرضه خدمات مالی، نوید دهنده استحکام پایه های اساسی اقتصادی کشور است، در عصر حاضر که تکنالوژی به سرعت ابعاد مختلف جامعه بشری را در بر گرفته است ، نیاز میرود تا در کنار تعامل با سایر شاخصه های تضمین سلامت اجتماعی، از سراسری شدن عرضه خدمات مالی ، حمایت ملی صورت بگیرد ، زیرا هر جامعه که خدمات نظام بانکی سراسری و هم شمول دارد، سقف رشد اقتصادی، درآمد ملی و تولید داخلی آن، رشد قابل ملاحظه داشته است، این امر نه تنها رونق اقتصادی و مصونیت جمعی را به دنبال دارد، بل اشتغال زائی، جلب سرمایه و زمینه تسهیلات در زندگی روزمره مردم را به ارمغان خواهد آورد .

»

این مهم میرساند که اتباع کشور ها در کنار مسولیت های که جامعه بر دوش آنان گذاشته است ، مسولیت ملی خود میدانند که از هر وسیله ممکن، در کنار سکتور های متحرک اقتصادی بایستند و با اجرای سهم خویش که منحیث شهروند با رعایت و اجرای اخلاقی آن خود را مسول می پندارند ، در پیشرفت اقتصادی کشور بگونه مستقیم و غیر مستقیم سهیم شوند.

در افغانستان نیز با توجه به شرایط، منحیث شهروند مسؤل، نیاز است تا با اعتماد خود به نظام بانکی، پایه های آنرا محکم نگهداریم تا شرایط سیاسی و معضله های اقتصادی جهان، نتواند ضرری را به این سکتور مهم وارد نماید. توسعه خدمات مالی سراسری می تواند در راستای نیل به اهداف اساسی سیاست های کلان اقتصادی مانند رشد اقتصادی فرا گیر، کاهش نا برابری عاید و کاهش فقر در جامعه ... نقش مثبت ایفا نماید ، اما نباید فراموش شود که این رویا زمانی میتواند تحقق یابد که شهروندان کشور با اعتماد به نظام بانکی، از خود گذری و اعتماد نمایند، پس اندازی های خود را منحیث امانت در نزد سکتور بانکی گذاشته و درداد و ستد های خویش از خدمات بانکی استفاده نموده و بیشتر از بیش به سکتور مالی کشور، اعتماد نمایند.

نفس اعتماد جمعی سبب میشود که در کنار دسترسی به عرضه خدمات پولی، گردش پول راکد (پول های که در نزد مردم در خانه ها نگهداری میشود ) مولد هزار ها تجارت های خورد، کوچک و متوسط، خود کفایی کشور، تحرک در زیر ساخت های اساسی ...و غیره شود.

از اینکه بانکها به عنوان عرضه کنند گان خدمات مالی در هر نوع شرایط حساس بوده و تاثیرات وارد شده به اجتماع، بر عرضه خدمات بانکی نیز تاثیر خود را میداشته باشد، بناً با بیرون شدن مردم از روند داد وستد های معمولی به روند مدرن و به کارگیری از خدمات نظام بانکی، از تاثیر منفی تغییرات و تحولات اقتصادی بر نظام بانکی، جلوگیری می نماید.

در این میان نقش فعال نهاد های مسئول چه در سطح پالیسی سازان و چه در سطح مجریان، در ثبات این سکتور نهایت مهم و حیاتی میباشد، عرضه خدمات مدرن و معیاری، جریان نورمال سکتور را تضمین نموده و باعث جلب اعتماد جمعی میگردد. بانکها میتوانند با متنوع سازی محصولات و کاهش هزینه های غیر ضروری بر مشتریان، مشوق استفاده جمعی از خدمات بانکی در کشور باشند.

در توسعه خدمات بانکی به همان پیمانه که سهم مردم فعال و ضروری میباشد ، نمی توان نقش محوری بانک مرکزی، عرضه کنند گان خدمات پولی و سایر مراجع مسول را نیز نادیده گرفت. بانک مرکزی به مثابه بانک مادر، نقش محوری در فراهم نمودن تسهیلات لازم دسترسی عامه به خدمات مالی را دارد. بانک مرکزی میتواند در پرتو قانون بانکداری برای ایجاد روابط میان عرضه کنند گان خدمات پولی و مردم نقش محوری را ایفا نماید که از تنویر سازی اذهان عامه تا کاهش هزینه های عرضه خدماتی را شامل میشود. در کنار آن ایجاب می نماید تا با متنوع سازی محصولات و خدمات مالی و همچنان ایجاد بازار های جدید با توجه خاص به گروپ های محروم مالی نظیر خانوار ها و شرکت های کوچک و متوسط، دسترسی مردم به خدمات مالی هر چه بیشتر تسهیل و انواع خدمات مدرن بانکی گسترش یابد.

»

ارقام منتشره از طریق سکتور مالی نشان میدهد که خوشبختانه د افغانستان بانک، بر اساس ماموریت خویش (تحقق ثبات قیم و ایجاد نظام مستحکم مالی) توانسته است نظارت دقیق و بموقع روی سپرده های مردم داشته باشد، تا انجا که در شرایط فعلی نظام بانکی کشور بتواند بهترین خدمات را درتناسب به کشور های همسایه عرضه نماید ، این امر نمایانگر تلاش های مداوم و تدوین سیاست های معقول پولی بانک مرکزی میباشد که نباید انکار نمود.

با توجه به تعهدی که د افغانستان بانک در امر گسترش و حمایت پروسه های خدمات مالی دارد، نخستین استراتیژی ملی توسعه رسیدگی به خدمات مالی در سال ۲۰۱۶ طرح ریزی نموده که برای پنج سال بود. پس از آن در سال ۲۰۲۰ دومین نسخه آنرا به روز داد که قابل اجرا می باشد که در شرایط فعلی شدیداً وابسته به هماهنگی مناسب میان شرکای سکتور خصوصی و دولتی و همچنان تعهد آنها در قبال تطبیق همه جانبه ی آن میباشد، عرضه کنندگان خدمات پولی بدون استثنا میتواند با تسهیل زمینه های دسترسی عامه به خدمات مالی، در مسیر همه شمول نمودن خدمات مالی گام های عملی را بر دارند، چنانکه قبلاً نیز تلاش های سکتور بانکی توانسته بود، مقدار پول های راکد در نزد مردم را از طریق کسب اعتماد، جمع آوری نماید.

از اینکه استحکام نظام مالی کشور مستلزم نگرش مردم و اعتماد به این سکتور است، مشارکت جمعی و تلاش های آگاهانه که براینده یک روند سنجیده شده و برنامه ریزی شده به منظور ثبات و استحکام سکتور بانکی باشد، میتواند ستون فاصله میان مردم و سکتور را از میان برداشته و باعث رونق نظام مالی گردد. نباید نادیده گرفت که ثبات اقتصاد و استحکام سکتور ها ، مستلزم اعتماد ملی است ، در شرایط فعلی جهان، دسترسی به خدمات مالی نیز به عنوان یک موضوع مهم خط مشی برای سیاست گذاران عمومی در سراسر جهان مبدل شده است.

در کشور عزیز ما توسعه خدمات مالی بیشتر از هر موقع اکنون یک نیاز ملی محسوب شده و لازم است تا در سراسر کشور، توسعه خدمات مالی بگونه یکسان، صورت بگیرد. در صورت که ۲۵ تا ۳۰ فیصد افغان های واجد شرایط بتوانند از عرضه خدمات بانکی استفاده نمایند و یا در یکی از بانک ها و یا موسسات مالی، حساب بانکی داشته باشند. این امر باعث رشد فراگیر، محو نا برابری درآمد و کاهش فقر شدید در کشور میگردد.

منبع:

د افغانستان بانک



# اقتصادي حُباب یا Economic Bubble

## علت، ډولونه، پړاوونه او بېلګې

لیکنه: عبدالوافي نایبزی

څو ورځې وړاندې مې د کورنۍ له غړیو سره یو ځای د واده د یو سټېج سینګاروونکي سره خبرې کولې، اخره خبره یې ۵۵زره افغانۍ وه. زه ورسره لږ جدي شوم، ویل مې وروره له مراسمو وروسته به د سټېج دا څوکۍ او پردې موږ له ځانه سره وړو او که تاته به یې پرېږدو؟ جدي شو، ویل یې، چې نه دا به ټول پرېږدئ، نو ما ورته ویل، دومره پیسې واخله، چې مقابل کې یې څومره خدمت/شیان راکوې، دومره لوړ نرخ ویلو ته څه حاجت؟ خو دلیل یې وایه، چې هر څه قیمته شوي‌دي.

ماته یې د اقتصادي حُباب موضوع رایاده کړه، اقتصادي حُباب په اقتصادي مالي بحثونو کې هغه حالت ته ویل کېږي، چې د مالي توکو یا اسهامو قیمتونه د هغوی له اصلي ارزښت څخه څو چنده لوړ شي، یا په ساده ټکیو کې چې «اقتصادي حُباب» داسې یو حالت دی، چې د مالي شتمنیو قیمتونه پکې بېخي لوړ لاړ شي، چې په پایله کې ورسره د هر توکي/خدمت عرضه کولو نرخونه هم لوړ ځي، دلته مو یو ټکي ته باید پام وي، چې اقتصادي حُباب او انفلاسیون خورا لږ توپیر سره لري؛ د اقتصادي حُباب خبره چې کله راولاړېږي، نو علتونه یې بیا د انفلاسیون سره لږ متفاوته دي، اقتصادي حُباب په یوه برخه کې یوه ځانګړې موضوع ده، خو انفلاسیون بیا یو عمومي بحث دی، چې نظر اقتصادي حُباب ته پراخه موضوع ده، خو په لنډ ډول ویلی شو، چې اقتصادي حُباب یو چټک انفلاسیون دی، چې په یو هیواد یا سیمه کې رامنځته کېږي.

### اقتصادي حُباب کله رامنځته کېږي؟

په حُبابي اقتصاد کې بدبختي دا ده، چې پرته له دې چې د یو توکي اصلي ارزښت ته وکتل شي او بیه یې وټاکل شي، بلکې بیې د تقاضا پر بنسټ ټاکل کېږي، یعني په حبابي اقتصاد کې نرخونه بېخي نوساني حالت کې وي، او دا بیا هغه حالت وي،

»

که عرضه چېرته ثابته هم وي، او يو څيز ته د خلکو تقاضا ډېره شي، نو نرخونه لوړ ځي او پانګوال د توکو اخيستلو ته مخه کوي، که چېرته لږ نرخ ولوېږي، نو پانګوال بيا د توکو پلورلو ته مخه کوي، خو کله چې توکي بېرته پلوري بيايي نرخونه په بې‌ساري توګه راوغورځي، چې دې حالت ته د حُباب چاودل يا Bubble Burst وايي. يوه خبره چې دلته مهمه ده، هغه د تېرايستنې تيوري په اړه ده.

پـه مالي برخه کې د احمق تيوري ډېره مشهوره ده، خو پـه علمي لحاظ لږه تـر مطالعې نيول شوې‌ده، د تېرايستنې تيوري يـا Greater Fool Theory وايي، چې داسې انسانان هم شته دي، چې يوه مالي شتمني يا توکي د هغوی اصلـي او ذاتي ارزښت ته په کتو په بېخي لوړ قيمت اخلي، يعني ارزښت يې ټيټ وي، خو دوی يې په لوړ قيمت اخلي او ګټه پکې کوي، يعني کيسه داسې ده، چې يو چا دغه توکي پـه لـوړ قيـمت واخيستل خو اوس بل څوک پيدا کېږي، چې له ده يې واخلي او دا سلسله همداسې روانه وي، خو ډېری پانګوال بيا کرار-کرار پوهېږي، چې يو خو د دې سهم يا توکي ارزښت دومره نه دی او بل بازار کې يې عرضه هم نارمل حالت کې ده، نو په ټيټ قيمت يې اخلي، او دا بيا هغه مهال وي چې کله-کله د يو جنس/خدمتونو قيمت بېخي راوغورځي.

**په نړۍ کې دوه مشهور اقتصادي حُبابه:**

لومړی، غالباً په ۱۹۶۰ز کلونو کې په هالنډ کې د لالـه ګـل Tulips قيمت بېخي لوړ لاړ، د لومړي ځل لپاره د عثـمانـي خلافت له لوري دوی ته د ګلانو د نورو تخمونو تر څنګ د لاله ګل تخمونه د ډالۍ په توګه ورکړل شوي وو، خو دا چې دا ګل د موسم سره لږ سازګار وو، رنګونه يې مختلف وو او په هالنډ کې ترې د فېشن په برخه کې ډېره ګټه پورته شوه، نو د پانګوالو يو سيل پرې ورمات وو، چې له دې سره يې نـرخ بېخي لوړ لاړ، په اوسني اقتصاد کې چې هر کله د يو تـوکـي/ خدمت نرخ د پانګوالو له‌کبله لوړ لاړ شي، نـو بـيـا ورتـه د Tulip Mania اصطلاح کارول کېږي، چې ريښه يې هماغه د هالنډ د ګلانو کيسه ده.

دويم، د ۱۹۹۰ز کال په وروستيو کې د تکنالوژۍ په برخه کې يو بل حُباب راڅرګند شو، چې حتا له خپل اصلـي ارزښت څخه يـې ۴۰۰ چنده نـرخ لوړ لاړ، او هغه د ډاټ‌کام حُـبـاب وو، چې د انټرنېټ پورې اړوند ادرس دی. خو لکه څنګه چې مخکې وويل شول، کله چې د پانګوالو سيل پر دوی ورمات شي، تر يو لنډ وخته دا ډول حُبابونه دوام پيدا کولای شي، خو بيا يو ناڅابه دا حُباب يا پوکانۍ چوي او نـرخ يـې هـم پـه بې‌ساري تـوګه راغورځي لکه د ډاټ‌کام هم دا حباب چې د ۲۰۰۰ز کال د اکتوبر په مياشت کې له ۴۰۰سلنې څخه آن ۷۸٪ ته راوغورځېد او ټوله هغه ګټه يې چې د حُبابي مرحلې په جريان کې کړې‌وه، له لاسه ورکړه.

**اقتصادي حُباب په کومو شتمنيو کې رامنځ‌ته کېږي (ډولونه):**

مخکې له‌دې چې د اقتصادي حبابونو لـومـړی ډول تشـريـح کړو، ښه ده چې د اسهامو مارکېټ/بازار وپېژنو. عموماً بـازار هغه ځای ته ويل کېږي چېرته چې راکړه ورکړه يا پېر و پلـور ترسره کېږي، په دې بازارونو کې د پېردونکي او پلورونکي تر منځ د اړيکو بېلابېلې وسيلې وي، چې اوس‌مهال کې يـې ښـه وسيله انټرنېټ يادولای شو. په بازارونو کې بيا د پېر و پلـور توکي يا خدمتونه هم دوه ډوله وي، يو ته يې رښتينې شتمنـي او بل ته يې مالي شتمني وايي؛ رښتينې شتمني ستـاسـې ټـول فزيکي توکي لکه ځمکه، ماشينيري، د پخلنځي توکي، د کور سامان او نور او په مالي شتمنۍ کې بيا مهم سندونه، اسهام او بانډونه شامل دي.

لومړی: د اسهامو حُباب: د اسهامو بازار يا Stock Exchange Market هم لکه زموږ او ستاسې فزيکي بـازارونـو پـه څـېـر سوداګريزې معاملې لري. د اسهامو بازار بيا خپل ډولونه لـري، لکه د توکو د اسهامو بازار، د پولي اسهامو بازار، د بانډونو يـا مشارکتي پاڼو بازار او نور. نو هر کله چې دلته پانګوال د يـو شرکت سهم باندې د هغې اصلي ارزښت ته پـه نـه پـام سره ورمات شي، دلته بيا د اسهامو حُباب رامنځ‌ته کېږي.

»

په وروستیو کې یې ښه بېلګه د اپل شرکت څخه یادونه کولای شو، چې اسهام یې په نړیوال اسهامو بازار کې په لوړ قیمت پلور کېدل او په ای‌فون۱۴ یې کار پیل کړی‌وو، خو په چین کې د کرونا او نورو ساري ناروغیو د محدودیتونو له‌کبله رامنځ‌ته شوی حُباب وچادو او د څو ورځو په اوږدو کې اپل شرکت کابو ۸ میلیارده (اته زره میلیونه ډالر) زیان وکړ یا په وروستیو کې د غنمو د قحطۍ او کمښت په اړه اورو چې ورسره د اوړو او غنمو بیې همداسې لوړ روان دي او هماغه د Greater Fool Theory د تیوري کیسه ده، خو وبه ګورو چې دا رامنځ ته شوی حُباب کله انفجار کوي؟

دویم: د استوګنې ځایونو د قیمتي حُباب: د استوګنې ځایونه یا جایدادونه هم د شتمنۍ او فزیکي توکو په څېر د عرضې او تقاضا بحث لري، که چېرته یې عرضه زیاته وه، یعنې د استوګنې د کورونو شتون ډېر وو، خو قیمتونه یې لوړ تلل، پوه شئ چې د استوګنې ځایونو په پلور کې حُباب رامنځ‌ته شوی‌دی.

دریم: د موټرو د نرخونو حُباب: مخکې مو ووېل چې د حُبابونو په رامنځ‌ته کېدلو کې عرضه او تقاضا اړین رول لري، د منځنۍ اسیا په ډېرو هیوادونو کې د موټرونو له‌پاره د وګړیو بې‌سارې مینه او علاقه د دې دلیل شوې‌ده، چې په یاده برخه کې حُباب رامنځ‌ته شي. د قانون له مخې باید د موټرونو اصلي نرخ یا ارزښت جمع یې وارېدېدونکی لګښت او ورپسې یو څه اندازه مناسبه ګټه محاسبه شي، خو د ازاد بازار په نوم هغه لوبې چې په‌دې هیوادونو کې کېږي، په بل هېڅ هیواد کې نه‌کېږي.

څلورم، پولي حُباب یا Money Bubble: موږ او تاسې ته ښایي معلوم وي چې په بازار کې د پیسو د ارزښت کیسه هم په عرضې او تقاضا پورې تړلې کیسه ده، تاسې ښایي ډېر اورېدلي او لیدلي وي چې د افغانستان بانک د افغانۍ د ارزښت ساتلو لپاره په میلیونونو ډالر لیلاموي. دا ښکاره خبره ده چې بازار ته د ډالرو په پیچکاري کولو سره غواړي افغانۍ راټوله کړي، کله چې په بازار کې یو جنس یا توکی کم شي، نو ارزښت یې خپله لوړېږي، نو په همدې خاطر بانډې د افغانستان بانک دا کار کوي، هسې خو د پیسو د ارزښت لوړ ساتلو په خاطر نورې لارې-چارې هم شته، خو افغانستان غونډې فقیر هیواد ته له دې پرته بله لار نه‌ده پاتې. د ډالر د حُباب‌کېدا په اړه یوازې وړاندوینه کېدای شي، دا چې هغه به څومره رښتیا کېدلای شي، والله اعلم.

د ډالرو بحث پېچیده ده، د ډالرو د قوت په ټکو کې تر ټولو ستر ټکی دا دی چې دا د نړۍ د ټولو پیسو پشتوانه Reserve Currency ده، چې د همدې کال د مارچ تر میاشت پورې همدا کیسه روانه وه، خو د ۲۰۲۲ز کال د مارچ په میاشت کې د پیسو نړیوال صندوق یا IMF د نړۍ هیوادونو لپاره څلور نورې پشتوانې هم اعلان کړې؛ هر هیواد د خپلو پیسو د ارزښت لوړ ساتلو په موخه یو څه اندازه په مرکزي بانکونو کې بږدي، دا ارزښت یا د طلا د نرخ او یا هم د تېلو د نرخ په تناسب محاسبه کېږي، خبره دا وه، چې اوس یوازې ډالر نه، بلکې یورو، پونډ، جاپانی ین، او چینایي یوان هم د نړۍ هیوادونه کولای شي، چې د خپلو پیسو د ملاتړ په توګه محاسبه کړي.

دویمه خبره د ډالرو د غورځېدو په اړه چې احتمال زیاتوي، هغه کرار کرار د انفلاسیون لوړوالی دی، مخکې مو ووېل چې اقتصادي حُباب یو ډول ګړندی انفلاسیون دی، خو ښه والی یې دا وو، چې بیا بېرته دا حُباب ژر چوي او نرخ راغورځېږي، خو کوم انفلاسیون چې کرار کرار رامنځ‌ته کېږي، بیا یې حل‌لاره خورا سخته وي. •

---


سرچینې:

1- Economic bubble / https://en.wikipedia.org/wiki/Economic_bubble

2- Economic Bubble – Definition, Types and 5 Stages of Financial Bubbles/ Benjamin Talin Last updated Jan 4, 2022 / https://morethandigital.info/en/economic-bubble-definition-types-and-5-stages-of-financial-bubbles/

3- Economic Bubble – Explaine / https://thebusinessprofessor.com/en_US/economic-analysis-monetary-policy/economic-bubble-definition








**د افغانستان بانک از تصمیم بانک جهانی و صندوق وجهی بازسازی افغانستان در خصوص تطبیق سه پروژه به ارزش مبلغ ۷۹۳ میلیون دالر در عرصه های تهیه مواد غذایی، فراهم سازی خدمات صحی و ارایه سهولت های معیشتی به مردم نیازمند افغانستان استقبال و قدردانی می نماید. د افغانستان بانک خواهان تداوم این مساعدت ها است و از جامعه جهانی می خواهد که در سایر عرصه ها نیز به همکاری های خویش با مردم افغانستان ادامه دهند.**

# چگونگی رشد و توسعه بانکداری اسلامی در جهان

عبدالحفیظ شاهین

بانکداری اسلامی در جهان امروزی توانسته است به عنوان یک سیستم مالی مقتدر عرض اندام کند. بانکداری اسلامی در حال حاضر در بسیاری کشور های اسلامی و غیر اسلامی نه تنها در حال فعالیت است بلکه در بیشتر موارد اقتصادی نسبت به بانکداری متعارف پیشتاز شده است.

توسعه اقتصادی از ابتدای زندگی بشریت مهم پنداشته شده است، اما بانکداری اسلامی توانسته است ویژگی های اساسی را به توسعه اقتصادی اضافه کند تا انسانها هرچه عاجلتر به هدف خود که همانا توسعه و رشد اقتصادی است برسد.

تحقق سیستم بانکداری اسلامی بر اساس تطبیق اهداف و رعایت قوانین فقهی و شریعت اسلامی در اقتصاد امکان پذیر است. در این عرصه عقود اسلامی یکی از موارد تأثیر گذار در بانکداری اسلامی شمرده می شود. همچنان یکی از اهداف عمده دیگر بانکداری اسلامی انطباق موازین شرعی بر عملیات بانکی و حذف ربا از آن می باشد.

در نظام بانکداری اسلامی بانک مرکزی، دولت و ملت هرسه در کنار هم در برابر تورم اقدام قاطعانه می کنند. در بانکداری اسلامی ربا حرام بوده در حقیقت حذف ربا در سیستم بانکداری اسلامی یکی از مُولفه های اساسی آن می باشد. هر بانکی که بیشتر بر موازین شریعت اسلامی عمل کند می تواند ادعا کند که به بانکداری اسلامی نزدیکتر شده است.

در سیستم بانکداری اسلامی بخاطر دادن تسهیلات بانکی به انواع حساب بانکی و استفاده از عقود فقهی بهره می برند. بانکداری اسلامی می تواند در طرح های تولیدی و عمرانی سرمایه گذاری نماید.

در بانکداری اسلامی بانکها از عقود بانکی بهره برده و بخشی از سپرده ها را سرمایه گذاری می کنند، این سپرده ها بر اساس اخلاق اسلامی بصورت کامل و قرض الحسنه به نیازمندان تعلق گرفته و در دست عده خاصی از مردم نمی شود. در این عرصه سیستم بانکداری اسلامی روند توزیع ثروت را در میان مردم سرعت می بخشد که در نهایت این امر باعث نقدینگی بیشتر می گردد.

بنا بر عوامل فوق بانکداری اسلامی در بیشتر کشور های جهان اعم کشور های اسلامی و غیر اسلامی از مدت ها به این سو مروج گردیده است. بانکداری اسلامی در مالیزیا، اردن، بنگلادیش، پاکستان، سودان، انگلستان، امریکا و غیره روند رو به رشد خود را طی می نماید.

در این میان انگلستان اولین کشوری غربی است که سیستم بانکداری خُرد را بر اساس قوانین اسلامی ۲۰۰۴عیار ساخت،



»

از آن زمان به بعد بانکداری اسلامی در این کشور رو به رشد بود تا اینکه در سال ۲۰۱۳ پنج بانک اسلامی با بیشتر از ۲۰ شعبه اسلامی در بانکهای غیر اسلامی به فعالیت آغاز کردند.

در امریکا نخستین مؤسسات بانکداری و مالی اسلامی " صندوق مشترک سرمایه گذاری امانت " و " مؤسسه تأمین مالی امریکا بنام " لاربا" بودند که به ترتیب در سال های ۱۹۸۶ و ۱۹۸۷ میلادی در واشنگتن و کالیفورنیا ایجاد شدند. از آن زمان به بعد فعالیت مؤسسات مالی در این کشور رشد داشته است. در شرایط کنونی در حدود بیشتر از ۹۱ مؤسسه ارائه کننده محصولات و خدمات بانکداری اسلامی در بخش های بانکداری خرد، شرکتهای رهنی، شرکتهای تأمین مالی و شرکت های سرمایه گذاری مشغول فعالیت هستند.

همچنان دو مؤسسه دیگر به نام های " دون بانک " و " یونیورستی بانک " نیز در بخش بانکداری خرد فعالیت می نمایند که به ترتیب در سال های ۲۰۰۳ و ۲۰۰۵ میلادی اقدام به شعب بانکداری اسلامی کردند که به منظور تأمین مالی از عقود مبادله ای استفاده می کنند.

در روسیه هم تقاضا بخاطر تخصص بانکداری اسلامی در حال افزایش است. حالا در این کشور کریدت کارت بانک حلال و اصول بانکداری اسلامی فعالیت می نماید. این کارت دارای اصولی است که بر اساس مبانی مالی اسلامی که همانا نفع و تجارت است استوار گردیده است.

بر اساس گزارش اسپونتیک در جریان کنفرانس بین المللی روسیه – جهان اسلام: اجلاس کازان در سال ۲۰۲۲ بانک " آک بارس " کارت بانکی اسلامی را به ریس جمهور تاتارستان ارائه گردید در این کارت عملیات تجارتی و خدماتی که درشریعت ممنوع می باشد، محدود شده است. استقبال جهانی از صنعت بانکداری اسلامی توجه جهانیان را به بانکداری اسلامی روز بروز بیشتر می سازد.●



**منابع:**

۱- BBC بانکداری در افغانستان؛ ده درصد مردم حساب بانکی دارند / تاریخ نشر : ۲۴ / ۱۰ / ۱۳۹۸ / https://
www.bbc.com › persian

۲- علاقمندی به تخصص در زمینه بانکداری اسلامی در روسیه /
https://af.sputniknews.com ›

۳- ررسی و مطالعه الگوهای موفق بانکداری اسلامی در جهان /
https://en.civilica.com › doc

# د اوبو مدیریت کرنیزه وده او برښنائي بریا رامنځته کوي

لیکنه: ح ن

په هیواد کې د اوبو مدیریت کولای شي کرنیزه وده رامنځته او افغانستان د برښنا په برخه کې پر ځان بسیا کړي. دا چې اوس په هیواد کې بشپړ امنیت رامنځته شوی دی او تر بل هر وخت زیات د اوبو د مدیریت په برخه کې د پانګونې لپاره لاره هواره شوېده دولت ته په کار ده چې دې برخې ته ډېره پاملرنه وکړي، ځکه د دې برخې مدیریت به دا هیواد د تل لپاره د برښنا په برخه کې پر ځان بسیا کړي او کرنیزه وده به ورسره رامنځته شي.

افغانستان چې د پراخو کرنیزو ځمکو لرونکی هیواد دی او زیات شمېر وګړي یې په کرنه بوخت دي، که د دې هیواد د شاړو پرتو ځمکو د خړوبولو لپاره حل لارې وموندل شي او اوبه یې په ښه ډول مدیریت شي، نه یوازې دا چې په کور دننه به د خلکو لپاره د کار روزګار زمینه برابره شي، بلکې له دې سره جوخت به د کرنیزو محصولاتو د تولید په برخه کې د لیدنې وړ پرمختګونه رامنځته شي.

د تر سره شویو څېړنو پر بنسټ افغانستان کې د اوبو ۷۵ میلیارده متر مکعب زېرمې موجودې دي چې له دې ډلې یوازې له ۳۰ سلنې یې په کور د ننه ګټه اخیستل کېږي او پاتې نورې یې ګاونډیو هیوادونو ته له کوم ترون پرته بهېږي.

پوره معلوماتو ته په کتلو سره ویلای شو چې که د اوبو د سرچینو د مدیریت په برخه کې پانګه اچونه وشي په هیواد کې به زیات اقتصادي پرمختګونه رامنځته کړي.

دیادونې وړ ده چې افغانستان ۸۰ میلیون هکتاره کرنیزه ځمکه لري او د دې ځمکې لپاره د اوبو غوره مدیریت افغانستان د کرنې په برخه کې له وارداتي په صادراتي هیواد بدلولای شي.

د کرنې په برخه کې د پرمختګ راتګ او د دې برخې میکانیزه کېدل د اوبو له مدیریت سره تړلی ده، دا چاره کولای شي چې په کور د ننه د کرنیزو

»



محصولاتو د زیاتوالي لامل شي او هیواد ته په دې برخه کې د وارداتو په راتګ کې کمښت رامنځته کړي او په صادراتي وده کې مرسته وکړي.

د نړیوال بانک لخوا په افغانستان کې تر سره شوې څېړنې په ګوته کوي چې د کرنې سکټور په افغانستان کې په عنعنوي توګه د اقتصادي پراختیا لپاره یو بالقوه شاخص بلل کیږي او د دغه هیواد د اقتصادي ودې لپاره یو خورا مهم او تر ټولو اغېزمن لامل په توګه پېژندل شوی. د دې بانک لخوا په یو خپاره شوي راپور کې راغلي چې د افغانستان شاوخوا ۷۰ سلنه نفوس په کلیوالي سیمو کې ژوند کوي او تر ډېره بریده په کرنیزو کروندو کې په کار بوخت دي چې۶۱ سلنه کورنۍ خپل د ژوندانه لومړنۍ اړتیاوې او عواید له کرنیز سکټورڅخه پوره کوي.

همدارنګه د اوبو مدیریت کولای شي د طبیعي آفتونو لکه وچکالۍ او سیلابونو د راتګ په مخنیوي کې مرسته وکړي. په افغانستان کې د دې ډول آفتونو له کبله زیات شمېر هیوادوالو ته په موسمي ډول ځاني او مالي زیانونه اوړي، خو د اوبو په مدیریت سره به دا ستونزه د تل لپاره حل شي او درانه هیوادوال به مو د طبیعي آفتونو د راتګ پر مهال له ورته ستونزو سره نه مخ کیږي چې ښه بېلګه یې د کوچینو او لویو بندونو او کانالونو جوړېدل یادولای شو.

بلخوا په هیواد کې د اوبو مدیریت افغانستان د انرژۍ له اړخه په نورو هیوادونو پورې له تړلتیا خلاصولای شي. په افغانستان کې دا مهال په کور دننه شاوخوا ۱۰ سلنه برښنا تولیدېږي او پاتې نوره یې له ګاونډیو هیوادونو پېرې چې په بدل کې یې نږدې له ۳۰۰ میلیونه ډېر امریکایي ډالر ګاونډیو هیوادونو ته ورکوي.

په افغانستان کې د بېلابېلو ادارو لخوا تر سره شوې څېړنې ښیي چې په افغانستان کې د اوبو په وسیله د ۲۲ زره میګاواټه برښنا د تولید وړتیا شتون لري چې افغانستان له دې کچې یوازې ۳ زره میګاواټه برښنا ته اړتیا لري، یادو معلوماتو ته په کتلو سره ویلای شو چې که په هیواد کې د اوبو او برښنا په برخه کې پانګونه وشي، دا هیواد به نورو هیوادونو ته هم له برښنا صادرات پیل کړي.

همدارنګه که په دې برخه کې نه یوازې دا چې بهرنیو هیوادونو ته به د یادې کچې ډالرو د تګ مخنیوی وشي، بلکې دا به د افغانستان په کورنې سوداګریز بیلانس کې ور زیات شي.

په لنډ ډول لیکلای شو چې د برښنا د تولید لپاره د زمینې برابرېدل افغانستان د برښنا په برخه کې پر ځان بسیا کوي او له نورو هیوادونو د برښنا د وارداتو مخنیوی پرې کیږي چې له دې سره جوخت د اسعارو سپما رامنځته کوي.

د صنعتي کارونو لپاره د لارې هوارېدل، د اوبو په مدیریت سره د برښنا د تولید لپاره لاره هوارېږي. په افغانستان کې دا مهال تر بل هر وخت ډېر د صنعت د غوړېدو لپاره زمینه برابره شوې ده، که دولت د برښنا د لویو بندونو پر جوړېدو کار وکړي او دې برخې ته پاملرنه زیاته کړي، لېرې نه ده چې په هیواد کې به د صنعت د غوړېدنې لپاره هم لاره هواره شي. •

---

سرچینې:

۱ - لیکونکی: رضا فرزام، د جرمني هیواد د بوخوم پوهنتون د ماسټرۍ دورې محصل / https://www.dw.com/fa-af/رابطه-میان-آب-و-توسعه-اقتصادی-درافغانستان/a-16218989

۲ - د کرنې سکټور بالقوه ظرفیتونه کولای شي د افغانستان د اقتصادي ودې لپاره ګټور ثابت شي / https://www.worldbank.org/ps/country/afghanistan/publication/unlocking-potential-of-agriculture-for-afghanistan-growth

https://www.afghanistan-analysts.org/power-to-the-people-how-to-extend-afghans-access-to-electricity/

# اقتصادي خبرونه

**د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند "افغان پانګه" محدود المسؤلیت شرکت پرانیست**

د افغان پانګې شرکت د پرانیستې په مراسمو کې د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند ویلي چې د یاد شرکت یوه ښه ځانګړنه دا ده، چې د ټولو قومونو استازي پکې شته دي.

هغه زیاته کړې چې د افغانستان اسلامي امارت او په تېره بیا اقتصادي کمیسیون چې موږ یې په رأس کې یوو، د سوداګرو پوره ملاتړ کوي.

ښاغلي برادر زیاته کړې چې له دوی سره د اقتصادي کمیسیون په غونډو کې سوداګر عملاً برخه اخلي او په ګډه یې ستونزو ته حل لاره پیدا کوي. د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال زیاته کړې، چې الله تعالی افغانانو ته یو غني هیواد ورکړی، چې ډېر پراخ کانونه لري.

په خبره یې افغان پانګه وال باید ټول په ګډه سره په خپل هیواد کې پانګونه وکړي، د هر چا عزت په خپل وطن کې دی او په بل هیواد کې عزت نشته.

اقتصادي مرستیال ویلي چې اسلامي امارت له ټولو هغو افغان کادرونو او سوداګرو چې په بهر کې دي، غواړي چې خپل وطن ته راشي او دلته په ګډه له خپلو افغان ورونو سره کار وکړي.

د یادونې وړ ده چې افغان پانګه یو محدود المسؤلیت شرکت دی چې په څلورو لویو سکتورونو (کانونو، انرژي، ساختماني او کرنې) برخو کې یې د ۲۵۰ ملیونه ډالرو لومړنی پانګونې سره نن خپل فعالیت پیل کړ.

**ایران د افغانستان د کانونو په اېستلو کې د پانګونې لپاره خپله علاقمندي څرګنده کړې ده.**

د هرات والي او د ایران قونسل پرون د کانونو د را اېستلو په ګډون د سوداګرۍ او اقتصادي همکاریو د پراختیا د څرنګوالي په اړه خبرې وکړې.

د هرات والي شیخ الحدیث مولانا نوراحمد اسلام جار، د بهرنیو چارو وزارت د نمایندګۍ رئیس مولوي شیر احمد عمار مهاجر او د کانونو او پټرولیم رئیس مولوي فضل احمد خاموش د ایران له جنرال قونسل محمد صدیقي فر او د ایران د کانونو د کنسرسیوم له اجرائیه مدیر بهرامي سره وکتل.

د ایران د کانونو د کنسرسیوم اجرایي مدیر وویل، چې په افغانستان کې د سراسري امنیت په ټینګښت سره له اسلامي امارت سره د کانونو اېستلو په برخه کې علاقه مندي لري.

د هرات والي افغانستان ته د ایران د کانونو د کنسرسیوم د اجرایي مدیر ته هرکلی وویل او زیاته یې کړه، د کانونو او پټرولیم وزارت له پرېکړې وروسته هغه څه چې د هرات د سیمه ییزې اداري په واک کې وي په هغه برخه کې به همکاري وکړي.

د هرات والي شیخ اسلام جار په دې کتنه کې افغان ځوانانو ته د کار د ویزې په اړه هم ټینګار وکړ او په دې برخه

«

کي يې د ایراني لوري د همکارۍ غوښتنه وکړه.

د ایران جنرال قونسل د همکارۍ ژمنه وکړه او ویې ویل، چې د کار ویزې د پیلولو لپاره هڅې دوام لري.

**مولوی امیرخان متقی با نمایندۀ خاص امریکا روی آزادسازی پول‌های منجمد شدۀ افغانستان گفتگو کرد**

مولوی امیرخان متقی سرپرست وزارت امور خارجۀ افغانستان که در رأس یک هیئت عالیرتبه به قطر سفر کرده است، با تام وست نمایندۀ خاص امریکا برای افغانستان دیدار و روی آزادسازی دارایی های بانک مرکزی افغانستان گفتگو کرد.

به گزارش آژانس باختر؛ وزارت امور خارجه با نشر خبرنامه‌یی گفته است که در این دیدار نمایندگان وزارت مالیه و ادارۀ انکشاف بین‌المللی ایالات متحدۀ امریکا (USAID) و تعدادی از مسؤولان عالیرتبۀ آن کشور نیز حضور داشتند.

تام وست نمایندۀ خاص ایالات متحدۀ امریکا در این دیدار گفته است که در رابطه به آزادسازی پول های منجمد شدۀ افغانستان در بانک های خارجی با مسؤولان وزارت عدلیه و قانون گذاران امریکایی گفتگو کرده است.

از سویی هم، در این دیدار روی مبارزه با مواد مخدر، معیشت بدیل و درمان معتادان در افغانستان نیز بحث و تبادل نظر صورت گرفت. دو طرف گفتگوها را مثبت ارزیابی کرده و بر دوام نشست‌های دوجانبه تأکید ورزیدۀ اند.

این در حالی است که پس از سقوط حکومت پیشین و روی کار آمدن امارت اسلامی، ایالات متحدۀ امریکا ۹.۵ میلیارد دالر پول بانک مرکزی افغانستان که در بانک‌های ایالات متحدۀ امریکا و برخی کشورهای اروپایی نگهداری می‌شود را مسدود کرد.

به دنبال آن جو بایدن رییس جمهور امریکا طرحی را امضا کرد که بر اساس آن بخشی از این دارایی‌ها برای بازماندگان قربانیان رویدادیازدهم سپتامبر اختصاص یافته و بخش دیگر آن برای مقاصد بشردوستانه در افغانستان به مصرف می رسد. اما اعتراضات حکومت افغانستان و نهادهای بین‌المللی در برابر این تصمیم سبب شد تا طرح متذکره عملی نشود. اکنون دولت ایالات متحدۀ امریکا می‌گوید که روی میکانیزمی کار می‌کند تا دارایی های بانک مرکزی افغانستان دوباره آزاد شود.

---

سرچینې:

۱- ایران د افغانستان پر کانونو پانګونې ته لېوالتیا ښودلې ده - باختر خبری آژانس(bakhtarnews.af)

۲- آژانس خبری باختر



# انقلاب صنعتی چگونه روی کار آمد؟

عبدالحفیظ شاهین

انقلاب صنعتی به ظهور و پیدایش ماشین های بخار تجارتی و در پی آن به ایجاد کارخانه های گفته می شود که برای همیش اقتصاد بریتانیا را تغییر داده و به سایر کشور های جهان نیز گسترش یافت. این انقلاب صنعتی در نیمه دوم قرن ۱۸ ام به میان آمد. در پی این انقلاب جوامع روستایی و دهاقین در اروپا و امریکا به صنعتی شدن و زندگی شهر روی آوردند. مردم در امریکا و اروپا قبل از انقلاب صنعتی برای رفع مشکلات و لوازم زندگی شان از ابزار های ساده در خانه های شان استفاده می کردند.

پیش از به میان آمدن انقلاب صنعتی بیشتر تولید کنندگان پارچه و لباس مورد ضرورت شان را در کارگاه های کوچک که در خانه های بافنده ها موقعیت داشت، می بافتند. در آن وقت صنعت توسط هزاران فرد تولید کننده شکل می گرفت. در این وقت مردم در هر بخش کشور در تولید خالص مهارت داشت.

متعاقباً در این کشور نفوس افزایش یافت، همزمان با این میزان تولید محصولات غذایی نیز گسترش پیدا کرد.

صنایع نساجی و آهن همراه با انکشاف ماشین بخار نقش اساسی را در این انقلاب صنعتی داشتند. تغییرات در این بخش صنعت، بالای سیستم های نظیر ارتباطات، بانکداری، حمل و نقل و غیره نیز تأثیر بسزایی وارد نمود.

گرچه این انقلاب تأثیر خیلی بسزایی در استندرد های زندگی مردم داشت، در عین حال تأثیر بدی بر روی زندگی طبقه کارگر و مستمند گذاشت، زیرا نرخ بیکاری و میزان فقر در بسیاری جاهای روستا ها شدت گرفت. در فرجام بسیاری از مردم روستا ها جهت پیدا »

کردن خانه و شغل عازم شهر ها شدند. تمام این شرایط راه را برای ایجاد یک سیستم تولیدی کار خانه ای بزرگ و وسیع مهیا ساخت.

انقلاب صنعتی در آن وقت به دلیل اینکه بریتانیا دارای معادن بزرگ زغال سنگ و معدن آهن بود و از نگاه سیاسی هم ثبات داشت صورت گرفت. هم چنان در آن زمان بریتانیا می توانست مواد خام مورد ضرورت خویش را از کشور های مستعمره خود بدست بیاورد و تولیدات خود را دوباره به کشور های مستعمره خود به فروش برساند. در آن زمان در این کشور تشکیلات اقتصادی آزادی کامل داشت، دولت در کار های تجارتی نه تنها اینکه مداخله نمی کرد بلکه دربساموارد در رفع مشکلات تجار نیز رسیدگی می کرد.

سایر دلایل عمده که سبب سهولت به میان آمدن انقلاب صنعتی در بریتانیا شد بطور خلاصه به آنها اشاره میگردد.

قدرت سلطنت مطلقه در این کشور محدود و در ضمن اشراف زادگان نگاه مثبت به تجارت داشتند. بر اساس قانون از دارای تجار محافظت بعمل می آمد. مهاجرینی که از سایر کشور ها به این کشور آمده بودند نیروی کاریارزشمند به این کشور شمرده می شد.

این کشور در کنار اوقیانوس اطلس واقع شده بود و موقعیت جغرافیایی اش در انکشاف تجارت به آن کمک می کرد. در آن زمان امریکای شمالی مستعمره بریتانیا بود. این مستعمره بهترین نیروی کاری بریتانیا را تشکیل می داد. مواد خام مانند پنبه و غیره که درامریکای شمالی تولید میشد، بهترین مواد خام بریتانیا را تشکیل می داد.

قبل از به میان آمدن انقلاب صنعتی مردم بیشتر در روستا ها زندگی می کردند، در این اثناء تعداد بیشتر شان به زراعت مشغول بوده و درآمد چندانی نداشتند. مردم بیشتر بیمار بوده به امراض مختلف مبتلا بودند. در عین حال آنها لباس و سایر لوازم زندگی شان را خود شان تهیه می کردند.

پیش از انقلاب صنعتی کار گاه ها در خانه های مردم موقعیت داشت، مردم مواد خام مورد ضرورت خود را از تاجر خریداری می کردند، محصول تولید شده را دوباره تجار می فروختند. در آن وقت بیشتر کار گاه ها لباس و نساجی تولید می کرد. بعد از اینکه انقلاب صنعتی به میان آمد تغییرات بزرگی در صنعت نساجی رونما گردید. در این مرحله اختراعات جدید سبب شد تا در صنایع نیروی کار کمتر استخدام شده و در ضمن میزان تولید بالا برود.

در همین ایام، شخصی بنام جیمز هارگریورز در سال ۱۷۶۴ میلادی ماشین نخ ریسی را اختراع کرد. ابراهام دارابی در قرن ۱۸ میلادی توانست شیوه آسان ترین را برای تولید آهن و چودن کشف کند. در این مدت زمان از آهن، چودن و فولاد از ابزار کار گرفته تا ساختمان و کشتی ساخته می شد.قبل از انقلاب صنعتی مردم در ساخت و ساز وسایل زندگی شان از چوب کار می گرفتند. بعداً آنها در این عرصه به دنبال ماده ماندگاه تری شدندکه بتواند حجم کمتر و انرژی بیشتر نسبت به چوب داشته باشد.

در رابطه به پیوند میان نظام بانکداری و انقلاب صنعتی باید گفت که برای نخستین بار بانک در نزدیکی شهر فلورانس ایتالیا قبل از قرن ۱۳ ام میلادی به فعالیت آغاز کرد و در قرن ۱۳ ام ورشکست شد. این به این معنا است که سیستم بانکداری در زندگی مردم از قبل تأثیر داشته و با به میان آمدن تحولات در زندگی مردم دوشادوش حرکت کرده و بعد از آمدن انقلاب صنعتی تا به امروز بانکها سبب انکشاف تولید، صنعت، صادرات و سایر بخش زندگی انسانها شده است.

منابع:

۱-انقلاب صنعتی چیست و از کجا و چه دوره ای آغاز شد؟ - بیتوته / https://www.beytoote.com › art

۲-سیری در تاریخچه انقلاب صنعتی و زمینه های آن - سیویلیکا / https://civilica.com

۳-Industrial Revolution | Definition, History, Dates, Summary / https://www.britannica.com › event

# د سود ( ربا) ډولونه، احکام او د حراموالي علتونه



ليکنه: ح ن

سود په لغت کې ډېروالي ته وايي او په شريعت کې هغه ډېروالي ته ويل کېږي چې په مالي مبادله کې له عوض پرته د متعاقدينو د يو تن لپاره شرط وګرځول شي.

د سود د حرمت دليل د الله ج دا وينا ده: (وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا) (البقرة ۲۷۵)

ژباړه: الله پاك بيعه روا کړې او سود يې حرام ګرځولی.

همدا راز له جابر ابن عبدالله څخه روايت دی چې پيغمبر(عليه السلام) په سود اخيستونکي، سود ورکوونکي، د سودي تړون پر ليکونکي او شاهد باندې لعنت ويلی دی.

**د سود علتونه:**

سود دوه علتونه لري چې جنس او اندازه (تول او پيمانه) بڼودل شوي. د تول او پيمانې وړ شيان چې له يو جنس څخه وي، يو پر بل يې په زياتوالي خرڅول ناروا دي، د بېلګې په ډول دوه پيمانې غنم په څلورو پيمانو غنمو پلورل سود دی.

**دسود ډولونه**

سود په دوو عمده برخو ويشل شوی دی: د جاهليت سود، اضافي سود

**د جاهليت سود:**

د جاهليت سود عبارت د هغه سود څخه دی چې د اسلام نه مخکې يې په عربوکې رواج درلود. لکه څرنګه چې دا سود بالکل څرګند ؤ، نو ځکه قرانکريم زيات نه دی تشريح کړی او صرف د هغه د حرمت په هکله ئې خبرداری ورکړی دی.

کله چې آيت کريمه نازل شو ټولو مسلمانانو سود پرېښود پرته د دې څخه چې دوی ته څه شك او شبه پکې پيدا شي او نه يې د دې موضوع په هکله ډېره تشريح وغوښتله.

»

دې سود ته په کتابونو کې رباالقران هم ویل شوی دی، ځکه چې د دې سود حرمت د قرا نکریم په مبارکو آیتونو باندې شوی دی. همدارنګه د دې سود بیان د حضرت محمد صل الله علیه وسلم په مقدسو احادیثو کې هم شوی دی. امام ابن قیم یې ښکاره سود بولي او ځینې نور پوهان یې بیا خفي سود بولي.

د جاهلیت سود داسې ؤ چې یوکس به په بل کس باندې یو شی په پور پلورل، خو چې کله به د پور وخت پوره شو او دا پور به ادا نه شو، نو له هغه وروسته به یې نور وخت هم ورکولو، خو شرط پکې دا وو چې تر اصل اندازه به یې زیات څه اخیستل.

همدارنګه ځینو کسانو به د پور اخیستلو پر مهال د مال ښېښتن ته ویل چې که د یوې ټاکلې مودې لپاره یوه اندازه پور ورکړي په مقابل کې به یې ټاکلې کچه ګټه ورته وسپاري.

د بېلګې په توګه، هغه کسان چې پیسو ته یې اړتیا وه دوی به د مال ښېښتن ته ویل چې که سل زره افغانۍ د یو کال لپاره د پور په ډول ورکړي، تر یو کال وروسته به د سل زره افغانیو په مقابل کې د مال ښېښتن ته یو سل او لس زره افغانۍ وسپاري. ( هم وخت ټاکل شوی او هم ګټه ټاکل شوې)

هغه مهال داسې هم کېدل چې د پور په مقابل کې به یې میاشت په میاشت ورڅخه ګټه اخیستله اوکله به چې وخت پوره شو، نو بیا به یې اصل مال اوګټه دواړه ترې اخیستل اوکه د اصل مال ورکولو کې به ځنډ رامنځته شو، نو بیا به یې د سود سلنه پرې زیاتوله.

**د ډېروالي سود (رباالفضل):**

دا هغه ډېروالی دی چې په دوه هم جنسوشیانوکې رامنځ ته کېږي. د بېلګې په ډول سره زر د سروزرو او سپین زرو د سپینو زرو په مقابل کې که څه هم د ښه والي او د جنس په لحاظ یوله بل سره بیلتون ولري .

په دې اړه ستردلیل دحضرت عباده بن صامت رضي الله عنه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي ((الذهب باالذهب والفضة باالفضة و البر باالبر و الشعیر باالشعیر و التمر باالتمر و الملح باالملح مثلاً سوایداً بیدفاذا ختلفت هذها لاصناف فبیعواکیف شتم اذاکان یداً بیدٍ))

یعني سره زرپه سروزرو، سپین زرپه سپینوزرو، غنم په غنمو، وربشې په وربشو، خرماپه خرما، مالګه په مالګه، مثل په مثل برابرپه برابرلاس په لاس پس هرکله چې صنفونه داجناسوبدل شي بیاڅرنګه موچې خوښه وي لاس په لاس به یې خرڅوئ.

دا سود په هم جنسو ربوي شیانو کې او لاس په لاس وي، مګر هغه سود چې د هم جنسو او یا غیر هم جنسو شیانو د تبدیل په صورت کې چې نېټه پکې وي ( لاس په لاس نه وي ) منځته راځي دې ته رباالنسیئة (د وروسته والي سود) وایي.

سرچینې:

۱- معاملات – د سود احکام/ استاذ عنایت الله عادل https://www.nunn.asia/129782

# ارزش جهانی گندم و سایر غلات

عبدالحفیظ شاهین

گندم و غلات گیاهان علفی هستند که دانه های آنها برای خوردن استفاده می شوند. این محصولات در بسیاری از کشور های جهان کشت شده و به عنوان ماده اصلی غذایی مورد استفاده قرار گرفته و به عنوان محصولات اصلی غذایی محسوب می گردد. غلات شامل گندم، جواری، برنج، جو، جودر و غیره می باشند. حبوبات گیاه یک ساله بوده که بنام های نخود، باقلا، لوبیا، دال، سویا و غیره یاد می گردد.

در این اواخر سازمان غذایی و زراعت بین الملل (فائو) اعلام کرد که کشور های واقع در شمال و غرب افریقا به دلیل عواقب جنگ در روسیه و اکراین گرانی مواد غذایی در آنها به سطح بی سابقه ای رسیده است. روی همین علت خطر شورش نان در خاور میانه در حال افزایش است.

در شرایط کنونی چشم انداز تیره و تاری در مورد تولید و عرضه محصولات زراعتی در سطح جهان ترسیم شده است. کارشناسان فائو در مورد بلند بودن بهای مواد غذایی می گویند امکان دارد که قیمت مواد غذایی در جهان تا چند فصل آینده

»



همچنان باقی بماند.

ما امروز شاهد بروز اختلال در سیستم زنجیره ای عرضه کالا ها هستیم، این موضوع همراه با افزایش قیمت انرژی دولت ها را مجبور کرده است تا برای کنترول اوضاع کنونی دست به یک سلسله اقداماتی مانند وضع محدودیت های صادراتی بزنند.

همچنان شرایط نا مساعد آب و هوا در کشور های مهم تولید کننده غلات و دانه های روغنی چشم انداز تولید محصولات زراعتی را تیره و تار ساخته و فشار های مضاعفی را بر زنجیره تولید و عرضه مواد غذایی وارد کرده است.

طبق گزارش فائو در غرب افریقا قیمت مواد غذایی در سال های اخیر در حدود ۳۰ درصد افزایش یافته بود، به تعقیب آن درگیری های نظامی، سیل، خشک سالی، کرونا و سایر عوامل مخرب سبب شده تا باز هم قیمت مواد غذایی در جریان سال جاری در حدود ۲۰ درصد دیگر نیز افزایش یابد.

در این عرصه باید یاد آور شد که نظر به عوامل فوق قیمت مواد غذایی مانند گندم، برنج، جواری و غیره برای چندین سال آتی همچنان در سطح بالا باقی خواهد ماند و غذا های را که مردم امروز در دسترخوان شان می گذارند روز بروز قیمت خواهد شد.

در حال حاضر کشور های که وابسته به واردات مواد خوراکی هستند بیشتر درمعرض خطر تورم بالای مواد غذایی مواجه می باشند. فائو هم در این عرصه زنگ خطر را به صدا درآورده است و بر اساس آمار این نهاد قیمت مواد غذایی در ماه مارچ سال جاری میلادی رکورد زده و دانشمندان را به این واداشته است تا پیش بینی های خود را در مورد چشم انداز بازار های مواد غذایی جهان اصلاح نمایند.

اوسط قیمت مواد غذایی در ماه اپریل سال جاری میلادی در جهان ۳۰ درصد بیشتر از قیمت مواد غذایی در ماه مشابه سال قبل میلادی بوده است. کارشناسان فائو می گویند انتظار می رود که قیمت مواد غذایی در سطح جهان تا چند فصل آینده در سطح بالایی قرار داشته باشد و خریداران مواد غذایی باید حاضر باشند که بهای بیشتری را برای خرید مواد غذایی مورد نظر شان بپردازند.

کشور های مانند روسیه و اوکراین هردو نقش اساسی را در تأمین نیاز بازار های محصولات زراعتی در جهان دارند، آنها علاوه بر تأمین ۲۵ درصد صادرات گندم دنیا، منبع مهمی برای صادرات روغن آفتاب پرست، جواری، جو، جودر و کودکیمیاوی جهان نیز هستند.

در شرایط کنونی جنگ روسیه و اوکراین عرضه محصولات زراعتی را به بازار های جهانی مختل ساخته که بر اساس آن قیمتهای مواد غذایی در سطح جهان افزایش یافته است. همچنان جنگ روسیه باعث تخریب بنادر اوکراین شده که بیشتر صادر کنندگان این کشور مواد صادراتی شان را بجای کشتی توسط ریل به خارج منتقل می کنند. این در حالی است که صادرات توسط ریل نسبت به کشتی به مراتب کمتر می باشد. یکمحموله ریل در حدود ۷۰ تُن غله می باشد اما یک کشتی می تواند هر روز ۲۰۰ تا ۳۰۰ محموله با این وزن را به کشور های همسایه صادر کند.

در حال حاضر حتی اقتصاد کشور های ثروتمند مانند امریکا، فرانسه و آسترالیا نیز با چالش های نظیر مقابله با تورم روبرو شده و قیمت های مواد غذایی در این کشور ها باعث تورم شدید شده

»

است. امریکا بعد از ۴۰ سال به قیمت بالای گوشت، نان و شیر مواجه شده است. آسترلیا بعد از ۱۱ سال با تورم مواجه شده و سیاست پولی خود را تغییر داده است. فرانسه هم با تورم غذایی ۳.۸ درصد مواد غذایی مواجه است.

گندم در افغانستان جزء مهم و اساسی غذای مردم است. طبق آمار اداره احصائیه نفوس افغانستان در سال ۱۳۹۹ در حدود ۳۲ میلیون نفر تخمین زده شده و نیاز مندی باشندگان این کشور تقریباً به ۶.۴ میلیون تُن گندم می رسد. اگر گندم به معیار های اساسی در کشور کشت گردد امکان دارد در حدد ۵۰۰۰ میلیون تُن گندم به دست آید و متباقی ۱.۴ میلیون تُن گندم دیگر آن که در ۵۰۰ الی ۶۰۰ میلیون دالر می شود از خارج وارد شود.

در افغانستان در حدود ۴ میلیون هکتار زمین که ظرفیت کشت را دارد به دلایل مختلف از کشت باز می ماند، اگر متشبثین تشویق شوند تا در زرع این مقدار زمین سهیم شوند، از یکسو به تولید غله جات کمک صورت می گیرد، از طرف دیگر تعداد زیادی شامل کار می شوند.

در بیشتر اوقات زمین های زراعتی به دلیل ناسازگاری های اقلیمی از کشت یا از حاصل دهی باز می ماند، تمام مصارف دهاقین بدون پاداش می ماند.

در این عرصه لازم است تا دولت برای کشت للمی توجه نموده و شیوه های درست آبیاری را در صورت عدم بارندگی روی دست گیرد. همچنان در مورد اصلاح نباتات، تخم های اصلاح شده و سایر برنامه های تحقیقی، تشویقی و میکانیزه شدن زراعت جهت خود کفایی گندم و سایر نباتات از طرف دولت بی نهایت مهم پنداشته می شود.

افغانستان که یک کشور زراعتی است، در حدود ۸۰درصد مردم آن به زراعت مشغول هستند می تواند بااستفاده بهینه از نیروی انسانی، تکنالوژی جدید، مهار آب و زیر آب آوردن زمین های بکر و بایر از صدمات ناشی از افزایش قیمت مواد غذایی رهایی یافته و به امنیت غذایی دسترسی پیدا کند.

قابل یاد آوری است که در افغانستان ۷.۸ میلیون هکتار زمین زراعتی وجود دارد. از جمله ۳.۳ میلیون هکتار آن به محصولات مختلف زراعتی اختصاص داده شده، در حدود ۳.۳ میلیون هکتار دیگر آن مختص به کشت گندم بوده و در مجموع در ۲.۳ میلیون هکتار آن به گندم آبی و در حدود یک میلیون هکتار آن مربوط به کشت گندم للمی است.کاشت گندم للمی در افغانستان بخاطر ناسازگاری اقلیمی خیلی زیاد آسیب پذیر می باشد.

---

منابع:

۱– –۱افزایش قیمت‌ها: کدام کشورها از گرانی سوخت و غذا رنج می‌برند؟ / https://www.bbc.com › persian

۲– تهاجم روسیه به اوکراین؛ »بحران مواد غذایی «دامن کشورهای / › https://ir.voanews.com

# د افغانستان کرنیز محصولات، غالۍ او کاني زیرمې صادراتي وده رامنځته کوي



لیکنه: سید خالد خالقیار

د افغانستان کرنیز محصولات، طبي بوټي، غالۍ، کاني مواد او زیات شمېر نور محصولات هغه څه دي چې کولای شي د هیواد په صادراتي وده کې مرسته وکړي او د هیواد لپاره د عاید غوره سرچینې شي.

ټولو ته جوته ده چې افغانستان یو کرنیز هیواد دی او ډېری وګړي یې په کرنه بوخت دي چې له دې لارې ډېر عاید تر لاسه کوي. تازه او وچې مېوې، طبي بوټي او زیات شمېر نور کرنیز محصولات هغه څه دي چې د افغانستان د صادراتو لویه برخه جوړوي. معلومات ښیي چې د دې هیواد کرنیزو توکو په نړیوالو بازارونو کې د ښې ذایقې او غوره کیفیت له کبله غوره شهرت تر لاسه کړی دی.

دا چې لله الحمد اوسمهال په هیواد کې د افغانستان اسلامي امارت حاکمیت تر لاسه کړی دی او په ټول هیواد کې د جنګ او جګړې ټغر ټول شوی دی په کار ده چې د کرنې برخې ته ډېره پاملرنه وشي، ځکه دا چاره کولای شي د افغانستان د صادراتي توکو په وده کې مرسته وکړي او افغانستان له دې لارې ډېر عاید تر لاسه کړي.

د یادونې وړ ده چې که څه هم افغانستان دا مهال د نړۍ بېلابېلو هیوادونو ته خپل کرنیز توکي صادروي، خو لا هم دې هیواد ته د کرنیزو محصولاتو د صادراتو په پرتله ډېر واردات کېږي او له دې لارې یوه زیاته کچه اسعار بهرنیو هیوادونو ته ځي.

د دې لپاره چې دا برخه وده وکړي په کار ده چې اړوندې ادارې د کرنیز سکتور د ودې او پرمختګ لپاره لنډمهاله، منځ مهاله او اوږد مهاله پلانونه جوړ کړي او د همدې پلانونو پر بنسټ چارې مخته یوسي. له بزګرانو سره مرستې او د اوبو مدیریت کولای شي دا برخه پیاوړې او د کرنیزو محصولاتو د صادراتو لپاره لاره هواره کړي.

بلخوا افغانستان د بډایه طبیعي زېرمو لرونکی هیواد دی. په دې هیواد کې څو کلنې جګړې د دې لامل شوې دي چې دا طبیعي زېرمې پر ځای پاتې شي.

دا چې اوسمهال په هیواد کې سرتاسري
»

سوله حاکمه ده تر بل هر وخت زیات د دې زېرمو د را سپړلو لپاره لاره هواره شوې ده،که په دې برخه کې پانګونه وشي او کورني او بهرني پانګوال ورته را جذب کړل شي لیرې نه ده چې دا به هیواد د سیمې په کچه په غوره اقتصاد لرونکي او صادراتي هیواد بدل شي.

د کانونو او پټرولیم وزارت د معلوماتو پر بنسټ افغانستان د ډېرو کاني زېرمو درلودونکی دی چې په اټکلي توګه د دې هیواد کاني زېرمې( له ۱څخه تر ۳) تریلیونه امریکایي ډالرو پورې رسېږي، چې مهمې کاني زېرمې یې اوسپنه، مس، سره زر، قیمتي او نیمه قیمتي ډبرې، او همدا رنګه د نادره ځمکنیو کانونو، تېلو او ګازو منرالونه دي.

دا معلومات ښیي چې د هیواد په ۳۴ ولایتونو کې کاني زېرمې شتون لري چې په را سپړلو سره یې د ټول هیواد په کچه خلکو ته د کار روزګار زمینې برابرېدای شي او په اقتصادي وده کې یې د لیدنې وړ پرمختګ رامنځته کولای شي.

همدارنګه د افغانستان غالۍ او ټغرونه هم په نړیوالو بازارونو کې د غوره شهرت لرونکي دي او زیات شمېر پېرودونکي لري. دې برخې ته د دولت پاملرنه د دې لامل کېدای شي چې د افغانستان په صادراتي وده کې پرمختګ رامنځته شي.

باید وویل شي چې په افغانستان کې د غالۍ اوبدونکي توانېدلي دي چې په کمه اُجره ( مزد) د نړۍ غوره غالۍ تولید کړي او د نړۍ په بازارونو کې د افغانستان غالۍډېر لېوال کسان لري.

غالۍ د افغانستان له لرغونو صنایعوڅخه دي، چې په هیواد کې ډېره تاریخي مخینه لري، دا صنعت په ځینو مواردو کې د افغانستان د اقتصادي پراختیا لامل بلل کېده.د غالۍ اوبدل له آریایي تمدن سره هم اړیکه لري.ویل کېږي چې هغه مهال هم افغانستان د پسونو د وړیو د تولید په پام کې نیولو سره،د نړۍ بېلابېلې زینتي غالۍ جوړولې. معلومات ښیي چې د افغانستان د غالیو سوداګر د اریایانو په پېر ( دوره) کې د نړۍ په کچه د غالیو ستر سوداګر وو.

د غالۍ صنعت کولای شي چې په افغانستان کې د دندې د موندلو لپاره ښه فرصت شي،خو اوس دغه صنعت له ډېرو ستونزو سره مخ دی.

**دغالۍ اوبدونکو بنسټیزې ستونزې**

- کم عواید
- د غالیو د اومه توکو کموالی
- د غالۍ اوبدونکو لپاره د مالي او فني ملاتړ نشتوالی
- بهرنیو بازارونو ته د غالۍ اوبدونکو نه‌لاسرسی
- د ضایعاتو کچې لوړوالی
- په هیواد کې د غالیو اوبدلو لپاره د ځانګړو پارکونو نشتوالی
- د کم کیفیته غالیو د وارداتو زیاتوالی
- د هیواد د لاسي صنایعو په ځانګړې توګه د غالیو په وړاندې دګاونډیو هیوادونو د دمپینګ سیاستونو شتون
- د ګاونډیو هیوادونو په نامه د افغانیو غالیو د ډېرې برخې صادرات

د یادونې وړ ده چې که چېرې په هیواد کې دغالیو د صنعت په فرصتونو کار وشي، سره پر دې چې د کورنیو اقتصاد به وده وکړي، بلکې له دې سره به د ملي اقتصاد د ودې لپاره هم لاره هواره شي.•

---


سرچینې:

۱- /https://fa.wikipedia.org کشاورزی_در_افغانستان

۲- https://www.pashtovoa.com/a/afghanistan-exports-increased-but-imports-decreased-in-2021/6371199.html

۳- /https://www.ariananews.af

۴- په-۱۳۹۰-کال-کې-دهیواد-دصادراتو-توکي-په/https://bakhtarnews.af/

۵-/https://8am.af/ps/afghanistans-imports-from-pakistan-have-doubled-in-the-past-three-months

۶-ثروت-طبیعی-افغانستان-چه-قدر -ارزش دارد؟ -./https://farsi.alarabiya.net/afghanistan/2018/05/28









# صندوق حمایه سپرده های بانکی افغانستان

**د افغانستان بانک صندوق حمایه سپرده های بانکی افغانستان را در سال ۱۳۸۷ به منظور تضمین سپرده های مردم ایجاد نموده تا هموطنان بتوانند با خاطر آرام و اطمینان کامل در بانکهای تجارتی سپرده گذاری نمایند و از این طریق زمینه رشد اقتصادی در کشور بیشتر فراهم گردد.**



# د افغانستان بانک خبرتیا!

د مخکینیو خبرتیاوو په تعقیب، د افغانستان بانک یو ځل بیا درنو هېوادوالو ته خبر ورکوي چې په مرکز او یو شمېر ولایتونو کې ځینې وګړي لا هم د فوریکس د آنلاین سوداګرۍ په نوم مالي معاملې ترسره کوي. د افغانستان بانک تر اوسه هیڅ وګړي یا شرکت ته د فوریکس آنلاین فعالیتونو جواز نه دی صادر کړی او د دغوی فعالیتونه غیر قانوني دي. نو له دغو وګړو او شرکتونو سره معاملې بې خطره نه دي او د هېوادوالو لپاره مالي زیانونه رامنځ ته کوي، له درنو هېوادوالو څخه په کلکه غوښتنه کوو چې د دا شان وګړو او شرکتونو سره له معاملو څخه ډډه وکړي.

د افغانستان بانک هڅه کوي چې د دا ډول فعالیتونو تر سره کوونکي وپېژني او عدلي او قضایي ارګانونو ته یې معرفي کړي، څو له سرغړونکو سره قانوني چلند وشي.





# اطلاعیهٔ د افغانستان بانک!


به تعقیب اطلاعیه های قبلی؛ د افغانستان بانک یک بار دیگر به اطلاع هموطنان عزیز می رساند که تعدادی از افراد در مرکز و بعضی از ولایات هنوز هم تحت نام تجارت آنلاین فورکس به معاملات مالی اقدام می نمایند. د افغانستان بانک تا اکنون به هیچ فرد یا شرکتی جواز فعالیت آنلاین فورکس را صادر ننموده و فعالیتهای آنها غیر قانونی می باشد. از اینکه داد و ستد با چنین افراد و شرکت های عاری از خطر نبوده و زیان های مالی برای هموطنان ما به بار می آورد، از هموطنان عزیز جداً تقاضا می نمائیم تا از انجام معاملات با چنین افراد و شرکت ها خودداری نمایند.

د افغانستان بانک در تلاش است تا افرادی که چنین فعالیت ها را راه اندازی می نمایند، شناسایی نموده و به ارگانهای عدلی و قضایی معرفی نماید، تا با متخلفین برخورد قانونی صورت گیرد.



# بانک

ماهنامۀ د افغانستان بانک
سال پانزدهم شماره ۱۷۹ ذوالقعده ۱۴۴۳ (جوزای ۱۴۰۱)



## د اوبو مدیریت کرنیزه وده او برښنائي بریا رامنځته کوي